***لیکونکی:*** *جان بیبس (John Vibes).*
***منبع اودنشر نیټه*** *: ګلوبال ریسرچ «۲۰۱۶-۱-۱۰».*
***ژباړونکی*** *: پوهندوی دوکتور سید حسام «مل».*

-------------------------------------------------------------

# دامریکی متحده ایالات افغانی کوچنیانو ته دتاوتریخوالی دینی زده کړی کتابونه ورکوی ترڅوچی هغوی جهاد ته را وهڅوی

***The US has been giving Afghan children violent books to indoctrinate them to Jihad – it work***

*دامریکی د متحده ایالاتو دولت د نړیوال لمړی جګړی څخه را په دی خوا په پراخه بنه دنړی د سیاسیی بی ثبا تی په راوستو با ندی نه سترې کید ونکی ډیر ستر نقش لوبولی دی کوم چی دهغه بیلګی اوس په مینځنی ختیځ کی په رنو سترګو لیدل کیږی چی هغه دولت په دی منطقه کی دلوی اغیزمن لاس لرونکی ځواک دی .*

*بی ویلو دی پاتی نشي چی په منطقه کی دامریکی متحده ایالات محلی دیکتاتوران له ملاتړ څخه بیا د شورشی اود یاغی ګروپونو سره د خپل خوښی رژیمونو د روستلو په منظور له هیڅ ډول ما لی اوما دی مرستو څخه ترشا شوی نه دی او یا نه دی سپمولی کوم چی دهمدی هلي ځلی په پا یله کی په مینځنی ختیځ کی دڅو نسلونو دځپلو اود ټکولو دپاره رنګارنګ بلاکانی (هیولا) رامینځته کړ- دبلی خوا څخه دهمدی هدف دپلی کولو په*



*مخه دغربیانو اودهغوسره د نورو متحد ینو لاس وهنه اونظامیګری دسړی جګړی په دوران کی بلکل ځرګند اوراښکاره شواودنړی په اکثرو برخوکی غرب اودهغه سره خپل نژدی اندیوالان دشوری اتحاد سره په نیا بتی جګړه کی سره راښکیل شول .افغانستان یو له هغه هیوادونو څخه شمیرل کیږی چی یکی دغه نیا بتی جګړه په هغه زمان کی پیل شو اودامریکی متحده ایالات د افغانستان شبه نظامی اویاغی شورشیان ترخپل لاربښونه*

اوترینینګ لاندی ونیول اوهغو ته جنګی مهمات او رنګارنګ سلاحګانی ورکړ چی دغربیانو په استاذیتوب سره په افغانستان کی دشوروی اتحاد د نظامی قطعا تو په وړاندی وجنګیږی یعنی دهغه هیواد په مقابل کی کوم چي هغه هم په منطقه کی ستر ستراتیژیک هدف لرل .

په افغانستا ن کی د امریکی متحده ایالات هغه تکتیک پکارواچول کوم چی هغه د افغانستان د سنتی اودودیزو جګړو څخه لا په ارته بنی سره د سری جګړی په موده کی روانیی (psychological war) جګړی ته د هغه هیواد په قلمرو کی لمن ووهل اودهغه هیواد داختلافاتو په نغری کی اور یی تازه وسا تل . نو دهمدی هدف دپلی کولو دپاره یی دملیلیون ډالرو په لګولوسره افغانی زده کونکو ته تبلیغی درسی کتابونه کوم چی په هغه کتابونو کی دتاوتریخوال تصورات اود نظامی جهادی زده کړی عناوین پرځای شوی وه چمتو کړ اوپر افغانی شاګردانو باندی وویشل چی په هغه ښونځیوکی کوم چی د جهادی جګړه ما رانو تر ولکی لاندی وه د ښونکو په واسطه سره درس ورکړ شی .

ددغه تبلیغی اوپروپاګندی کتابونو تر شا هغه توخه (انګیزه) کوم چی موجود وه هغه دافغانی بچیانو په ریښتیانی بڼی سره افراطی کول وه چي هغوی د شوروی اتحاد په مقابل کی چه کله لوی شی دجنګ کولو زیات تمایل ولری اود جګړی د عهدی څخه ښه پوره راووتل شی – نودهمدی اصل په نظرکی نیولو سره دواشنګتن پُست د یوراپور په حواله امریکا یی مقاما ت دغه کتا بونه د (۵۱) میلوینو ډالرو په لګښت سره په کال (۱۹۸۰) کی چاپ کړ اوبیا یی د خپل ګوډاګی جها دی مشرانو پواسطه سره دخپل تر ولکی لاندی د ښونځیو په شا ګردانو باندی وویشل چی حتی د طالبانو دواکداری په موده کی هم دهمدغی کتا بونوله مخی شاګردانو ته درس ورکول کید ه اوداځکه چی دطا لبا نو نظر اومذهبی باورونه دجها دی ډلو تیلو سره یورنګی درلود.

دغه د امریکی تبلیغا تی هڅی اواند هغه وخت چی امریکا یا نو د جګړی د پا ره افغا نستا ن ته لاړعا مو خلکلو ته څرګند شو چی د لته دافغانستان په ښونځیو کی دغربی کوریکولم په میتود شاګردانو ته درس ورکول کیږی چی په هغه کی شاګردان د جهاد درسونه ولولی اوبیا چی کله غټ شی نو پخپل خوښه جها د وکړی داهغه څه وه چی دتولنیز رسنیو پواسطه سره په پراخه پیما نی سره خپور شو .

نو په هغه موده کی دامریکی جمهور ریس « بوش » باندی فشار واچول شو چی ددغه مخکینی کوریکولم پرځای دی نوی کوریکولم ځاي پرځای شی او ښاغلی بوش هم ومنل چی مخکینی کوریکولم په نوی کوریکولم با ندی واړوی نو همغه وه چی د لسو میلونو دالرو په لګښت سره نوی کتا بونه په چاپ ورسول کوم چی په هغه کتابونو کی دخشونت اود تاوتریخوالی پرځای دی سوله ، انسا ن ته د درنا وی درسونه ځای پرځای شوی وه.

ښاغلی کرس برون(Chris Brown) په آسیا کی دامریکی دمتحده ایالاتو دانکشا فی پروزی دکتابونو دچاپولو اودبیا له سره کتنی لوی مدیر داسی اعتراف وکړ چی مونږ په لمړی سرکی دغه درسی کتابونه دیوتبلیغی وسیلی په ښه په افغانستا ن کی د شوروی اتحاد دځپلو اود بد نامولو په منظور پلان کړی وه اوهغه دځپل خبرو په دوام سره زیا ته کړ چی مونږ ډیرخوشحال شوچی دغه کتابونه وشو کړلی چی شوروی اتحاد دخلکو په نظرکی سپک او بی وقاروکړ هغه زیاته کړه چی دغه درسی کتابونه د عصر د غوښتنی په نظر کی نیولو سره چاپ او چمتو شوی وه .

نومړی مدیروویل مونږ دغه دجګړی دوخت ددرسی کتابونومتن اومحتوی دسولی دوخت دغوښتنی دمحتویاتو په نظرکی نیولو سره واړول – دبلی خوا څخه باید یاد شی چی د رارسیدلی مکرر راپوررونو په نظر کی نیولو سره د دغه درسی کتا بونو متن او محتویات دافغانستان د(جګړیزفرهنګ) سره په مطابقت د مقدسی جګړی د مقدراتو په نظرکی نیولو سره برابرشوی وه .

احمد حکیم افغانی ښونکی چی ددی کتابونو دمحتویاتو سره کامل آشنا یی اوبلد تیا درلود پخبل توضیحاتو کی وویل چی ددی درسی کتابونو تصویرونه د ښونځیو دشاګردانو دپاره ډیر بوږنونکی اودهغه متن له حده زیات خراب اوبدتر دی .له بلی خوا څخه ډیر ښونکی داسی اظهارنظرکوی چی دغه کتابونه لاتراوسه دافغانستان په ښونځیو کی تدریس کیږی حال داچی یونیسف په وار وار ویلی چی دغه کتا بونه باید له مینځه ویوړل شی اودهغه پر ځای نوی کتابونه دشاګردانو دپاره چمتوشی .

په دی تازه وختونوکی له پُست څخه د رارسیدلی راپوررونو له مخی اغلی د ینا برود (Dana Burd) د نیویارک په پوهنتون کی د بین المللی تعلیما تو دځانګی اسیستا نت پروفیسور پخبل یوتوضیحی ګذارش کی داسی یادونه وکړ :طالبانو هغه دامریکی دمتحده ایالاتوپه افغانستان کی د جنګ د دوری د رسی کتا بونه چی دافغانستا ن دشاګردانودپا ره چمتو کړی وه بیا له سره په چآپ رسوی اودځپل ولکی تر لاندی سیموکی د ښونځیو پر شاګردانو با ندی ویشی چی په ښونځیوکی د هغه له مخی د جها د درسونه زده کړی اودجنګ د پاره ځا نونه اماده کړی. هغه دځپلو خبرو په دوام کی زیاته کړ چی ما پخپلو سترګو اوپه تیره بیا ددی زاړه کتابونو هغه نسخی و لید لی کوم چی دپیښور په ښار په کال (۲۰۱۱) کی له سره کاپی شوی وه.

د امریکی د متحده ایالاتو د تشو هڅو اود کرغیړنو اعما لو د تقبیح په منظورپه تصویری بڼی سره لکه هغسی چی دداعش یاغی ډلی ټپلی خپل جلادانو ته دځپلو قربانیانو د سر پریکونی په وخت کی نارنجی جمپرونه اغوند ی او دهغه تصویرونه د تلویزیون دلاری نړیوالو ته خپروی په ورته بڼی سره داسی توضیح کیږ ی چی دا دامریکی متحده ایالات وه چی زده کونکو ته داسی درسونه او کوریکولمونه برابرول چی هغوی جهاد

*ته ورو هڅوی .نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره هر هغه دولتونه او حکومتونه چی بی ګناه کوچینیان د خپلو قدرت اودخپل منګلو د ټینګولو دپا ره د یو وسیلی په بڼه پکا ر وړی اوهغوی ته د شریرو جلادانو اود قا تلانو درسونه ورزده کوی په دی دی سر خلاص کړی چی دغه ډول کړنه له جنایت اوله خیا نت څخه هم لا وړاندی دی یعنی دغه کړنه له شره ډک یو شیطا نی عمل دی چی با ید دهغو پرعاملانو باندی لعنت وویل شی .*

**---------------------------------------------- په توده سلامونو سره**

***ددی مقالی لیکونکی یو محقق - علمی پلټونکی او دڅو کتابونو تالیف کونکی او مختلفو سایټونو ته مقا له لیکونکی سړی دی – دهغه سره کولای شی چی په لاندی پته سره اړیکی ټینګ کړی :***

**www. Johnvibes.com**